یونس نګاه
۲۹ مارچ ۲۰۲۳



یونس نګاه

# د فرخندې تراژیدي او حجابونه یې

فرخنده دا مهال له یوه وګړي ورهاخوا په یوې تاریخي او ټولنیزې پدیدې بدله شوې ده. وګړي د خپل سیاسي درک او موضع ته په پام، فرخنده په ذهن کې لري. له همدې امله د هغې په اړه خبرې کول، نور د یوه وګړي په اړه خبرې کول نه دي، بلکې د ټولنیزې او تاریخي پېښې بیانول دي. زه غواړم ذهن مې له فرخندې سره خبرې وکړي او له هغې واورم چې ولې او څنګه هغه پېښ شول او زمونږ د ټولنې په اړه څه غواړي بیان کړي.

**یونس: تاسو څوک یئ؟**

**فرخنده:** ما د فرخندې ملک زاده په نوم پېژني. لکه د نورو په شان زما په اړه تذکره، کورنۍ، د انځورونو شمېر، د زېږېدو ځای او د قبر ادرس ثبت دی. خو کومه پېښه چې د ۱۳۹۳ د کب په ۲۸مه چې د ۲۰۱۵ د مارچ له ۱۹مې نېټې سره برابره ده د ملا زین الدین تعویذ لیکونکي په ځای کې رامنځته شوه، او زما او د هغه ترمنځ لفظي شخړه چې د څو ساعتونو ډراماتیکو پېښو لامل شوه، نور له هغه فردي هویت نه تښه شوې او په یوې تراژیدي اوښتې یم. ژوندۍ تراژیدي او له سوفوکل، اوریپید، فردوسي او شکسپیر نه پېچلې تراژیدي چې رامنځته کړې یې دي. ځکه چې په دې تراژیدي کې لوبغاړي واقعي او رېښتوني وو او صحنې یې پر سړک، د سلګونو او کېدای شي د زرګونو لیدونکو او لوبغاړو په مخکې ترسره شوې. د ټولو د لوبې توکي واقعي وو او لوبغاړو ننداره کوله. وینه رنګ نه وه، بلکې له رګونو راوتله او د انسانانو له غرایزو او د غوښې او هډوکو د ننه غوسه او تاوترخوالی راپارېده، چې دا د هغوی هنري مهارت نه و.

دا ډول ډېرې تراژیدۍ رامنځته کېږي، خو لږ شمېر یې لکه د هغې لمریزې ورځې په شان د کابل د سیند ترڅنګ پېښېږي، په مناسب وخت او ځای کې پېښېږي. له ټولو نه مهمه دا چې دا ډول تراژیدي ډېرې کمې ثبتېږي. زما تراژیدي د لرغوني یونان د تیاترونو نه مناسب چاپېریال، او حتی د نن ورځې د ښکلو تالارونو نه مناسب ځای او

چاپېریال درلود. د سیند تر څنګ دېوالونه، د جومات او زیارت زینې، بامونه، زینې او بالکونونه او د سیند د دواړو غاړو د هټیو کړکۍ له انسانانو ډکې وې. هغه سړک چې نور کله به له لاس ګاډو، لاس پلورنکو او د عابرینو له تګ راتګ ډک و، د یادې تراژیدۍ د ډېرو لوبغاړو لپاره تش شوی و او په کافي ډول د رول د ترسره کولو لپاره مو ځای درلود. د معلوماتي ټکنالوژۍ د پرمختګ له برکته، هغه شېبه تر یوې اندازې ثبت شوه. یو شمېر لوبغاړو له ځانونو سره ټیلفون درلود او له هغې شېبې یې عکس او فلم واخیستل. زه هغه تراژیدي یم.

**یونس: ومو ویل چې دا ډول پېښې ډېرې رامنځته کېږي. په رسنیو کې ستاسو د حیرانتیا وړ مړینې په اړه خبرې کېږي. اوس د فرخندې نوم د استثنایي وضعیت او یوازینۍ پېښې او د خواشینۍ ښکارندوی دی چې حتی په ډېره وروسته پاتې او له تاوتریخوالي ډکې ټولنه کې هم غیر عادي په نظر راځي.**

**فرخنده:** زما تراژیدي موقعیت او وخت رامنځته کړه، نادره او بې مثاله یې وړاندې کړه. چانس مې درلود چې د لمر د سترګو پر وړاندې، په خلاصه او له لیدونکو او لوبغاړو ډکه صحنه کې او په هغه وخت کې چې له ټولې نړۍ نه ډېرو دوربینونو او ډیپلوماټانو، له کابل نه ساتنه کوله، مړه یا ښه ده ووایم وژېړېدم. هغه فرخنده چې اوس ستاسو مخامخ ناسته ده، له هغې شېبې زېږېدلې ده. له ما نه پرته ډېرې دردونکې تراژیدۍ په هماغه کلونو کې رامنځته شوې، خو په نطفه کې هېرې شوې، ثبت نه شوې او په سترګو رانغلې. څو بېلګې یې تاسو ته دریادوم. د ۱۳۹۰ کال ژمي (۲۰۱۹ ډسمبر ۲۷) کې زما د تراژیدۍ له زېږېدو نه درې کاله مخکې، د سحرګل کیسه رسنیو کې خپره شوه. تاسو ولوسته او د هغې له خولې مو واورېدل چې ورور یې څنګه هغه په څلور کلنۍ کې د ۱۰ زره ډالرو په مقابل کې په هغه سړي پلورلې وه چې هغه یې د مېرمنې او د ژوند ملګرې لپاره نه، بلکې د فحشا (ځان خرڅونې) لپاره یې غوښتله. کومې کورنۍ چې هغه یې پېرلې یا اخیستې وه، له سحرګل نه یې تمه وه له پردیو نارینوو سره یو ځای بیده شي. خو هغې نجلۍ د هغوی دغه غوښتنه نه وه منلې. نوموړې یې د شپږو میاشتو لپاره د کور په تهکوي کې زنداني او وهلې ټکولې وه. کله چې له تهکوي نه وژغورل شوه، زما له تر پښو لاندې شوي مړي سره یې دومره توپیر نه و، نوکان یې ترېنه ایستل شوي وو او بدن یې په اور سوځول شوی و، هغې ته یې دومره اوبه او ډوډۍ ورکوله چې ژوندۍ پاتې شي.

که چېرې یې سحرګل په هغو شپږو میاشتو کې، د شاه دو شمشېرې جومات مخې ته په زنځیر تړلې وای، د ټولو په شتون کې یې له غوښې نه نوکان ایستل شوي وای او هره ورځ د هغې مالک او د بدن پېرېدونکي یې د هغه تعویذ لیکونکي پر ځای د زیارت له لاسپیکر نه چیغې وهلی چې نوموړې یوازې ځان خرڅونې ته د تسلیمۍ په صورت کې له دغه عذاب نه ژغورل کېدلای شي، هغه وخت به کېدای شي د سحرګل تراژیدي زما له تراژیدي نه هم له درد نه ډکه وای. د نوموړې د تراژیدي صحنې څو میاشتې زمان نیولی و، په داسې حال کې چې زه څو ساعته په صحنه کې وم. نوموړې یې په تهکاو او د رسنیو له سترګو لیرې او د جمهوري ریاست د ارګ ماڼۍ نه په ډېرې لیرې واټن کې وهلې ټکولې وه او څو ګامه مړینې ته پاتې، وژغورل شوه.

د عایشې کیسه چې په ۱۳۸۹ کال کې خاوند یې پزه او غوږ ورپرې کړي وو، اورېدلې مو ده. نوموړې یې په دیارلس کلنۍ کې په یوې سیمه ییزه جرګه کې، د دوو کورنیو د دښمنۍ د پای ته رسولو لپاره په «بدو» کې ورکړې وه. عایشې په یاده کورنۍ کې له ډېرې ځورونې او وهل ټکولو وروسته، تېښتې ته ملا وتړله، او بیا ونیول شوه او پوزه او غوږ یې ورپرې کړل. له هغو ټولو وهلو ټکولو سربېره، د دې احتمال شته چې نوموړې په اتفاقي ډول ژغورل شوې وه. وروسته له هغې یې فرصت ترلاسه کړ چې درملنه یې وشي او د تایم مجلې پر مخ خپل عکس ووینې. دا لیست اوږد دی. د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په میاشت کې د غور ولایت غلمین سیمه کې د رخشانې د سنګسار ۳۰ ثانیه یې ویډیو چې خپره شوه، هم مو لیدلې ده. رخشانې د په زوره او اجباري واده نه د خلاصون لپاره چې کورنۍ یې ورته په

پام کې نیولی و، له هلک سره چې مینه یې ورسره درلوده، تښتېدلې وه ځو په خپله خوښه ژوند پیل کړي. هغه دواړه یې ونیول او سزا یې ورکړه. سرې یې په درو وواهه او رخشانه یې تر ملا پورې په خاورو کې خښه کړې او سنګسار یې کړه. فکر وکړئ رخشانه یې د رسنیو په حضور، د د شاه دو شمشیره جومات ترمخې او په هغې حیرانتیا سره چې زما تراژیدي رامنځته شوه، سنګسار کړې وای، ایا زما له تراژیدي به کمه وه؟ یوازې ښځې د دغو تراژیدیو قرباني نه دي. نارینه هم ورته کړاوونو سره مخ کېږي، جګړې ته په زور بیول کېږي، مړي یې د جګړې په ډګر کې بوی کوي او د وهلو ټکولو لاندې مړه کېږي. له هغه راهیسې چې طالبان بیاځلې راغلي دي، تاسو په ځلونو لیدلي دي چې نارینه له کور، د کار له ځای او له سړک نه برمته کېږي او ځو ورځې وروسته یې مړي کورنیو ته سپارل کېږي. یوه شېبه فکر وکړئ یو له هغو نارینوو د شاه دو شمشیرې جومات ترمخې لومړی وتړل شي، د ځو ساعتونو لپاره ځو کیلو وزن یې په شرمګاه ورځوړند شي، وروسته ځو تنه قهرجن نارینه د هغه د لاسونو او پښو نوکان تربنه وکاږي، او بیا یې په تړلو لاسونو د سړک پر مخ ځملوي او په پایپ یې دومره ووهي چې ساه یې ووځي. ایا هغه به هم زما د تراژیدي په څېر وي؟ هلته به یوازې اور نه وي. د یادو نارینوو مړو ته اور نه اچوي.

**یونس: ما یو ساده پوښتنه وکړه، ومې ویل تاسو څوک یاستئ، خو خبره تر دې ځای راورسېده.**

**فرخنده:** هو، د فرخندې د تراژیدي د درک لپاره اړتیا ده د هغې چاپېریال وپېژنئ. د یوې پېښې ځرګندول، ځو تنو ته سزا ورکول او د ځو تنو نمانځل، یوازې هغه وخت مرسته کولای شي چې د ژوندیو سترګې د هغې پېښې پر لوري خلاصې کړي. که مې چاپېریال ونه پېژنئ، ما نه پېژنئ. نه پوهېږم، کېدای شي کله چې یو څوک له فردیت نه په یوه سمبول بدلېږي، د عادي انسانانو په څېر فکر نه کوي. زه دلته د فرخندې د ژوند د بېلګې په توګه، نور هغې ډلې ته چې یو ځای مو تراژیدي ولوبوله، د بې رحمه قاتلینو او وحشي ځناورو په سترګه نه ګورم. له دې ځای نه کله چې وینم، هغوی یوازې زه نه سنګسارولم، یوازې زه نه وژلم، بلکې زما وجود یوه پلمه وه ځو ډېری نور شیان په خپل ځان، خپله کورنۍ او ټولنیز چاپېریال کې سنګسار کړي، په لغته یې ووهي، د موټر لاندې یې کړي او اور ورته واچوي. داسې خلک هم وو چې زما په ځان له هرې لغتې سره، فکر یې کاوه چې د خپل د وجود شیطان په لغته وهي، خپله ګناه وژني او د خپلې نامسلمانۍ او بې ایمانۍ جبران ورکوي. ځینې وو چې د ایمان او شیطان په اړه یې هېڅ فکر نه کاوه. کېدای شي دا چې هغوی ته دا فرصت په لاس ورغلی و، ځو هغه وجود چې حتی هغه ته کتل هم جرم بلل کېده او د ټولنې سنتي محدودیتونو له هغه سره د اړیکې مخنیوی کاوه، اوس لکه د یوې بازیچې په توګه لاس پرې ووهي، لمس یې کړي، په لغته یې ووهي او ویې ځوروي، کېدای شي ځینو خپلې جنسي عقدې زما په وجود سړولې. د هغو په ډله کې داسې خلک هم وو چې بې روزګارۍ، بې عدالتۍ او محرومیت یې زغملی و. د خپل او د واکمنو ترمنځ یې ډېر واټن راغلی و. اعتراض یې چا نه اورېده او د شکایت اورېدو لپاره یې کوم ځانګړی ځای نه لیده. له حاکم نظام او هغو ډلو چې ټولې سرچینې یې تر خپل واک لاندې راوستلې وې، بد راتلل، له ټولنې او له زیاتو محدودیتونو یې په تنګ راغلي وو او د خپلې غوسې او نا خوښ وضعیت د تشولو لپاره د فرصت په لټه کې وو. دا فرصت د هغې ښځې وژنې برابر کړی و ته وا د خلکو مقدساتو ته یې توهین کړی و، کله یې چې ولیدل د قانون له پولې اوښتي دي او دومره پیاوړي شوي چې پولیسو، اردو او دولت پرته له تماشا او لیدنو بله لار نه لري، د بریالیتوب احساس یې کاوه. زما وجود ته له هرې لغتې سره به یې لاسونو ته د هوا پر لور ټکان ورکاوه او دولت، زورواکو او قانون او نظام ته یې ښکنځلې کولې. په هغې تراژیدي کې عام جهالت له ورایه ځرګند و، خو قهر او اعتراض هم لیدل کېده. خپل شوي عوام، محروم شوي او ځنډې ته شویو نارینوو ځانونه د پولیس، ځارنوال، قاضي او جلاد په ځای کې لیدل. په هغو کلونو کې چې زورواکو او د دولت له امکاناتو برخمنو چارواکو د کوم مشروعیت له مخې یې چې

ځانونو ته ټاکلی و، په لوړه کچه د وېرونکو تراژیدیو په رامنځته کولو بوخت وو. هغوی د دولت، د دولت پر ضد، ترهګر او د ترهګرو ضد رول کي انسانان وهل ټکول، سرونه يي ورپرې کول او ډلي ډلي انسانان يي په ډلييز ډول په بيماريو يا د ځانمرګو بريدونو له لارې د عمر او جنسيت له تفکيک پرته وژل. حتما مو په ياد دي چي د ۲۰۰۸ ميلادي کال د اګست په ۲۲مه نېټه د شينډنډ ولسوالی د عزيزاباد کلی بمبار شو. ملګرو ملتونو او د افغانستان دولت اعلان وکړ چي په ياد بمبار کي څه باندې ۹۰ غير پوځيان چي ماشومان، زما په عمر نجونې، ښځي او سپين ږيري او ځوانان ووژل شول. ټول کلی له خاورو سره خاورې شو. ملګرو ملتونو ويلي و چي د قربانيانو ۶۰ تنه يي ماشومان وو. فکر وکړئ هغه ۹۰ تنه په چاودنه کي نه، بلکي په هغه ډول چي زما تراژيدي رامنځته شوه، د يوه دولت د قانون نه پرته، د يوه ملا په امر د شاه دو شمشېره جومات مخي ته ټوټي ټوټي شوي وای، هغه مهال به د عزيزاباد تراژيدي څه ډول څرګنده شوې وای؟

دولتونه، ډلي او د قانون د ترسره کولو د واک مدعي سازمانونه او شريعت، په ټولنه کي تاوتريخوالی کري او تمه لري خلک مينه ورېبي. هغوی په بم ښوونځی، کلی، سيمه او يا حتی ښار په وينو لړي، خو له عامو خلکو (هغوی چي د قانون او شريعت د ترسره کولو واک نه لري) غواړي هغسي چلند وکړي چي د چا شخصي حريم نقض نه شي او د هېچا وينه تويه نه شي. ماشومانو، سپين ږيرو او ځوانانو چي په شاه دو شمشېره کي له مونږ سره د فرخندې تراژيدي ولوبله، د مشروعيت او لوړوالي احساس يي کاوه. د خدای او د شريعت د قانون د ترسره کوونکو په ځای کي ولاړ و.

**يونس: تاسو څنګه هغي تراژيدي ته لار وموندله؟**

**فرخنده:** زه ايمان او غريزو هغه ځای ته يوړم. ټولنيزې روزني او سياسي چاپېريال، هغه لاره راته پرانېستي وه. او که ووايم ټول امکانات مي پرمخ ټېل شوي وو تر هغه چي شاه دو شمېره ته ورسېدم، له ملا زين الدين سره مخ شم، سنګساره او په لغتو ووهل شوم او بدن ته مي اور واچول شو. تاسو کېدای شي له يادې تراژيدي نه وروسته د ډېرو راپورونو له لوستلو وروسته پوه شوي ياست چي يوه مسلمانه ښځه او د ايمان د کمال په لټه کي وم. د اوه ويشتو کلونو په عمر وم، خو د هېڅ سړي وجود مي نه و لمس کړی. ټول عمر مي په کابل کي تېر شوی و خو د اسمايي غرونه او شير دروازه مي د سر په سترګو نه و ليدلي. چاپېريال ماته راښوولي وه چي سر مي پورته ونه نيسم او ښکلاو او لوړو ته ونه ګورم. زه ايمان، غريزو، ټولنيزې روزني او سياسي چاپېريال په ډېرو حجابونو کي پېچلي وم، خو سربېره پر هغه، هر چېرې چي تلم د بې حجابی احساس مي کاوه. حجاب مي له ماشومتوب نه له روان او زړه سره تړلی و؛ پر غوږونو حجاب، پر سترګو حجاب، پر خولي حجاب او پر وجود مي حجاب درلود. ذهن او فکر مي بايد سانسور کړی وای، غوږونه او سترګي او ژبه مي د وجود په څېر پوښلي وای او د هر شي په اورېدلو، ويلو او ليدلو کي مي حجاب په پام کي نيولی وای. سره له دې هم، ټولنه راضي نه وه او زه خپله هم راضي نه وم. فکر مي کاوه يو څه کم دي. يوازې د بويبولو حس مي حجاب نه درلود. مونږ ښځي د بويولو په حس کي ازادې يو. کېدای شي د دې لپاره چي د مشرانو، د شرعي خاوندانو او قانون ورته پام نه دی شوی. ما حتی نارينوو ته کتل چي جامي به يي اغوستي وې، د ګناه احساس کاوه، د هغوی د غږونو د اورېدلو په برخه کي مي احتياط کاوه، هېڅکله مي زړه نه کاوه چي د نارينه په ځان مي لاس ولګېږي. حتی د دا شان کار په فکر به مي ځان لړزېده. بوی داسي نه و. د نارينوو د وجود عطر مي په ارامتيا حس کول، د نارينوو د وجود خالص بوی، هغه بوی چي د يوه کاريګر له وجود نه احساس کېده د لاس ګاډي چلونکي له وجود نه چي د قيمت لپاره به يي جنجال کاوه، له ګناه پرته به مي احساس کاوه. غريزو او ايمان او ټولنيزې روزني او سياسي چاپېريال زه يي په خپل د ننه له يوې ناپايه جګړې سره مخ کړې وم. له تعويذ ليکونکي سره شخړه مي زما د ننه د شخړو ښکارندوی و. کله ناکله به زما د ننه جګړې په ناخوداګاه ډول بهر ته سر راښکاروه. د

ایمان قواعد او دا چې تړولنه څنګه له ګناه وژغورل شي او کمال ته نږدې شي، لوستل مې او د هغو په اړه مې فکر کاوه. فکر مې کاوه نوموړی تعویذ لیکونکی د تړولني د ایمان په ویجاړولو بوخت و، او له هغه سره مې شخړه شوه.

**يونس: په هغې تراژيدي کې تاسو هم حجاب نه درلود. هغه عکسونه چې له تاسو نه خپاره شوي وېښتان مو ګډوډ مالوميږي. ايا تاسو هم په وروستيو شپېو کې له وېرې ازاد شوي وئ؟**

**فرخنده:** نه ما تر وروستۍ شپې له خپلو وېرو او ډار سره ژوند وکړ. هغو وېرو زه ووژلم. پوهیږئ، په لومړیو شپېو کې، د تېښتې فرصت راته برابر شوی و. خلک لږ وو او پولیسو له لاسه ونیولم د دیواله شاته یې یوړم څو له هغه ځای نه مې لیرې کړي. په خپل لاس مې د پولیس لاسونه ونشوای زغملای. نه پوهېدم چې که چېرې پولیس ما د خلکو له سترګو لیرې کړي، له کومې پېښې سره به مخ شم. وېرېدم چې که پخپل ځان د ګناه تور پاک نکړم، کورته څنګه لاړه شم. غوښتل مې له خلکو سره مخ شم او د خپل ایمان او پاکوالي نه دفاع وکړم. د ذهن حجابونو مې اجازه رانکړه له هغه ځای نه لاړه شم. بېرته راغلم. بل ځل څو تنو پولیسو هڅه وکړه د زیارت له بام نه مې هغې بلې خواته ولېږدوي او ومې ژغوري. د بام له هغې خوا وډاره شوم. د یادو نارینه و په لاسونو کې د ملاتړ حس پروت و او هغه حس زما وجود کې د مینې په څېر و. زما په ذهن کې د نارینه او ښځې ترمنځ مینه او ملګرتیا د ګناه په څېر و. پورته ختلو کې مې مرسته ونه کړه. لاس مې د پوخیانو له لاسونو خوشې شو او بیا د قهرجنو ډلې په منځ کې ولوېدم.

**يونس: د هغو خلکو غوسه له ځان سره وېره نه درلوده؟**

**فرخنده:** هغه وېره هېڅکله د ګناه په اخته کېدلو له وېرې سره د پرته والي وړ نه وه. نه پوهېږم څنګه ووایم. کېدای شي د ځانمرګي بریدګر بېلګه مرسته وکړي. ایمان څنګه په ځانمرګي بریدګر د مړینې د وېرې په حالت کې بریالی کېږي؟ په لومړیو شپېو کې مې هڅه کوله د خپل وجود او حجاب ته پام وکړم. څو ځلې مې له ځمکې خپل ټیکری راپورته او پر سر مې کړ. د وېښتانو له ګډوډېدو شرمېدم. خو ورو ورو په تراژیدي کې ډوبه شوم. بیا نو لغتو درد نه درلود، چیغې مې نه اورېدلې، د خلکو له غوسې نه وېرېدم. ته وا له وجود مې جلا شوې او هغه خونړۍ ډرام ګورم او وینم.

**يونس: له وجود نه جلا کېدل څه حس لري؟**

**فرخنده:** حس نه لري، تړوله بې حسي ده. لکه ژور خوب او د هېرولو شېبه ده. وړاندې تر دې چې مړه شم، ځان مې سپک احساسوه، د بې حسۍ حس و. شیان وو، خو وزن یې نه درلود. حرکتونه تر سترګو کېدل، خو لاره یې نه درلوده. غږونه اورېدل کېدل، خو معنا یې نه درلوده. رنګونه وو، خو ذهن ته څه نه راتلل. احساس مې کاوه چې لاسونه پورته خوا ځي او کوم شی مې په وجود لګېدل، خو نه پوهېدلم لاسونه ولې پورته تلل او شیان مې ولې په ځان لګېدل. وینه مې لیدله چې روانه وه، خو نه پوهېدلم ولې تویېږي او ولې سور رنګ لري. وېښتان مې لیدل چې ګډوډ وو، له هغه وړاندې کله چې په حمام کې مې خپل وېښتان لیدل، د خوښۍ احساس به مې کاوه. له کور نه بهر که د ټیکري یوه څنډه به مې پورته کېده، د ګناه احساس به مې کاوه او زړه مې لړزېده. په شاه دو شمشېره کې داسې نه و. نه بدرنګه وم، نه ښکلې، نه معصومه وم، نه ګناه کاره، په خپل ځان کې مې حس او وجود نه لیده او یوازې هغه تراژیدي کې چې زېږېده ما یکې معنا پیدا کوله.

**يونس: ته پوهېدې چې ژوندۍ کېږې او په یادونو کې به پاتې کېږې؟**

**فرخنده:** ژوندي پاتې کېدل له هغه ځای نه چې زه یم، معنا نه لري. ژوند په شېبو کې معنا پیدا کوي او شېبې لنډې او پرې پرې دي لکه د یوه عکس او ویډیو د قطعي قطعي کولو په شان. مونږ په تاریخ کې ورکېږو، له خپلو دردونو او د ښادیو شېبو سره. زما تراژیدي به هم یوه ورځ هېره شي.

یونس: له کوم ځای نه چي مونږ یو، تاسو ژوندي یاستئ او تر ډېره به یادونو کي پاتي شئ.

فرخنده: هو، تاریخ افراطیان په یاد راوړي. هغوی چي تل او ورو په لاره ځي، معیشت غوښتونکي او محافظه کار دي، له ټولو نه د زمان په نیمایي کي ورکېږي. هغوی چي د خپل ژوند پړی په ټول قوت او تر وروستی ساه پورې په لاس کي ټینګ نیولی وي، تر ډېر وخته په یادونو کي پاتي کېږي. کېدای شي تر ډېرو کلونو د خلکو په ذهنونو کي پاتي شم، د دې لپاره نه چي تر ټولو ښه یا بده یم؛ له دې امله چي په یوې بې مثاله تراژیدي کي د ژوند تسمه او پړی مي دومره تېز او افراطي شو چي د وېرېدونکي چاودني له امله له منځه لاړ. خو دغه نسبي په یادونو کي پاتي کېدل امتیازي نه ده. که په یادونو کي پاتي کېدل امتیازي وي، لوی امتیاز به زمونږ په عصر او ملک کي ملا عمر او طالبان ترلاسه کړي.

**یونس: څنګه؟**

**فرخنده:** د دغي خاورې د ۱۹مي پېړۍ له نیمایي راپدېخوا د چا نوم لکه د شاه شجاع په څېر ژوندی پاتي دی؟ څو تنه مبارزین، څو خیر غوښتونکي انسانان، څو ودونه چي د ښکلا له مخي مشهوره وو، څو ماشومان چي د زړه له تله یې خندل او څو ښځي چي خواږه خواږه به یې پخول او څو نارینه چي میوه راوړونکي ونې یې روزلي وې په یاد پاتي شوي دي؟ پرته له څو تنو قاتلینو، غازي، شهید او هېواد پلورنکو سبا ته به ستاسو زمانه د ځانمرګو بریدونو او سر پرې کولو په توګه په یاد ولري او د طالب او ملا عمر د زماني په توګه به یادېږي؛ ځکه چي هغوی په افراطي ډول جنګېدلي، له منځه وړي، وژلي، ویجاړ کړي او ژوند یې کړی دی. سبا ته به د طالبانو د بم غږ ستاسو له ترانو نه لوړ واورېدل شي.

**یونس: دردونکی دی، ولي؟**

**فرخنده:** ځکه چي تاسو د زړه له تله، په ټول قوت او د خپل ژوند تر پایه پورې د ازادی ترانې نه دي ویلي. ځکه چي تاسو په دې کلونو کي ناست او ویده پاتي شوي یاست، خو هغوی په ولاړه او په منډو جنګېدلي دي.

**یونس: بل څه د ویلو لپاره لرئ؟**

**فرخنده:** نه ترسره شوي کارونه ډېر دي، خبرې همدومره بسنه کوي.